عبدالمالک فدا

# د قيصه خانی د شهيدانو په ياد کښې

داسې توئې کړې هيچا نۀ دي د چرګانو وينې
لکه توئې کړې دي انګرېز د مظلومانو وينې

ځکه ليکلې دے سن تيس اپرېل هر چا په وينو
چې په دي ورځ باندې وېرېا وې د خوارانو وينې

قصه خوانه قصاب خانه وه په نظر د خلقو
چې ئې بازار کښې بهېدې د انسانانو وينې

د هاتي خپلو خونرېزي کۀ د ځلمو هېره شي
دوي نه به هېرې وي هر وخت د حسنيانو وينې

په کوم مجلس کښې چې څوک ياد کړي شهيدان د ټکر
بدن کښې جوش وخورې د ملک د ماشومانو وينې

چې ئې اختر کړو محرم د اتمانزو په مېدان
ربه ژوندئ کړې بيا د هغه بادرانو وينې

د کربلا نه زياته وه د هري پور جېلخانه
په کښې پرتې دي لا تر اوسه د قېديانو وينې

هغه ملک هيڅکله د غېرو غلام شوے نۀ دے
په کوم وطن چې دي توئې شوې د ځوانانو وينې

چې اودۀ قوم ئې رابېدار کړو د غفلت د خوبه
په دي شيندلي دي خدائي خدمتګارانو وينې

زر به آزاده کړې له غېرو معشوقه د وطن
چې پرې داؤ کړې دي رښتيني عاشقانو وينې

عبدالمالکه د ځلمو وينې بې ځايه نۀ ځي
رنګ به پېدا کړي په دنيا د شهيدانو وينې

